قاسم باز
۲۷ جولای ۲۰۱۵

د سترګو لیدلی یادداښتونه

## محمد موسی شفیق څرنګه او د چا په سپارښتنه

## د شهید سردار محمد داوودخان د جمهوریت په دوره کښی د نظارت څخه خلاص شو.؟

دوهم قسمت

**د لومړی پاتی برخی**

بازمحمدخانه! اوس زمونږ د ملګرو وینه ډیره توده ده دوی د محمد موسی شفیق په خوشی کولو کی یوه خوله ندی خو ژمنه ( وعده ) درسره کوم چی ډیر ژر به یی ازاد کړم... تاسو ډاډه اوسی.

دا هاغه وخت دی چی د سرطان د ۲۶ نیټی پاخون وال په خپلو کی په څو ډلو ویشل شودی. هر یو د تحول هیرو ځان باله او هر یو د بل څخه ځان پورته، د مثال په ډول ، داکتر محمد حسن شرق، غوث الدین فایق، پاچاګل وفادار، او عبدالحمید محتاط یادولی شو.

پدی وخت کی محترم عبدالحمید محتاط د ګروه کار په نوم یو شمیر کسان تر شاه و درول، پاچاګل وفادار سفیر شو او د هغه پلویانو هم د دولت په رئیس تور لګوه چی ولی ( وفادار) د وزارت له دندی ګوښه شو؟

د فوایدعامی وزیر غوث الدین فایق چی د حسن شرق سیال وه دی داسی انګیری چی حسن شرق د ځان د پیاوړتیا لپاره کوښښ کاوه چی: د سردار محمد داوودخان شاو خوا یو شمیر دوستان او ملګری و ټاکی. خو د غوث الدین دا خبره ماته د منلو وړ نه بریښی، د بیلګی یا نمونی په ډول دی وایی. چی حسن شرق ، عبدالمجید باز د دولت د رئیس محمد داوودخان د سکرتر یا سریاور په حیث وټاکه، حال دا چی د عبدالمجید باز پلار له محمد داوودخان سره د ډیر پخوا پیژندل.

عبدالغفار فراهی پخپل اثر کی لیکی. [ د داکتر عبدالظاهر د حکومت په مهال ما ته سید عبدالاله تلیفون کښی وویل چی سردارصاحب محمد داوودخان هلیه لری چی تاسو و ګوری. ] دی وایی چی زه په ټاکلی وخت کور ته ورغلم، (۱۹۶) مخ.

په داسی حال کی چی بازمحمد خان زما سره روغبړ وکړو خو لا زمونږ خبری په خوله کی وی چی سردار صاحب له دویم پوړ نه راښکته شو، بالاپوش یی اغوستی وه، خولی یی په سر وه داسی بریښیده چی غوښتل یی په انګړ کی قدم ووهی....

کله چی ورسره مخامخ شوم نو له روغبړ نه وروسته یی راته وویل په هیواد کی څه خبری دی؟ له دی یادونی نه می موخه داوه چی بازمحمد خان د استقلال د جنګ راوروسته د نادرخان، هاشم خان او سردار داوود خان سره نژدی اړیکی درلودی. د سرطان د ۲۶ نیتی د پاڅون په شپه د محمد داوودخان سره تنها او تنها بازمحمد خان و، زما پلار ماته د ۲۶ د سرطان د شپی د جریان په باره کی وویل چی پاچاګل وفادار مخابره راوړه، تقریبا یو ساعت زمونږ سره و هغه بیا په خپلی وظیفی پسی چی د متکبر او ځان نه راځی جنرال د عبدالولی نیول وه په هغه پسی ولاړ. ده او فیض محمد په شریکه هغه ونیوه او دنیولو وروسته یی د داوودخان کور ته راوست، داوودخان ما ته وویل چی پاچا ګل ته ووایه چی دی هم د عبدالقدیر نورستانی کور ته بوځی . په دی شپه چی مونږ زندان نه درلود د شاهی نظام ټول عالیرتبه مامورین مو د عبدالقدیر نورستانی په کور کی تر نظارت لاندی ونیول. په دی بندیانو کی دا کسان شامل وه. مارشال شاولی خان، جنرال عبدالولی. محمد موسی شفیق، خان محمدخان وزیر دفاع، جنرال عبدالحکیم کتوازی، رحمت الله صافی، سردار محمد عزیز نعیم او دده خانم شاهدخت مریم او څو نور.

کله چی عبدالمجید باز د دولت د رئیس یاور نه و ټاکل شوی پلار به می هر سهار ۷ بجی د مرحوم داوودخان کورته ورته او تر هاغه وخته به هلته و تر څو چی محمد داوودخان د ارګ له دفتر بیرته کور ته راشی. خو کله یعنی تقریباً یوه نیمه میاشت روسته کله چی می ورور د هغه سریاور شو نو بیا به می پلار یوازی او یوازی د جمعی په ورځ د هغه لیدلو ته ورته او ځنی مهمی عریضی به هم له ځانه سره ور وړی او یا که به چا غوښتل چی د داوودخان سره و ګوری نو دلیدو زمینه به یی ورته برابره وله.

د همدی لیدنو او کتنو په تړاو یوه ورځ د پاڅون ځنی دوستان چی د نوم د اخستلو یی ډیر کوم د سردار محمد داوودخان لیدو ته یو ځای ورغله او په ځانګړی ډول یی زما د پلار بازمحمد خان په اړه ورته وویل: نوموړی هر څوک ستا لیدلو ته رابولی. مونږ ویره لرو چی تاسو ته کوم زیان و نه رسیږی، بیا همدا دوستان داوودخان ته وړاندیز کوی چی که څوک غواړی تاسو و ګوری غوره ده چی د صدارت له لاری او یا هم د کورنیو چارو او یا د ګارد له خوا ستاسو د لیدلو ویاړ تر لاسه کی.

ددی وړاندیز موخه دا وه، چی داسی کسان باید دده ( داوودخان)د لیدلو وړتیا تر لاسه کړی چی سردار صاحب ته و وایی چی بیرون خیر او خیریت دی هر څوک له نظام نه خوښ دی، په چا ظلم او تیری نه کیږی، رشوت نه اخستل کیږی، بی عدالتی په بشپړه توګه له منځه تللی ده او داسی نورخه چی د دولت رئیس دیته اړ نشی چی په کابینه کی کوم بدلون راولی.

رښتیا هم د همدی کسانو توطیه وه چی د محمد داوودخان له دوستی نه د ده ډیرو خوږو دوستانو لاس واخست ان تر دی چی سردار سلطان محمود غازی هم د ملکی هوایی چلند له ریاسته لاس په سر شو.

له دی څرګندونو څخه داسی برېښی چی یو شمیر کسان له پخوا نه په مورچل کی ناست وه چی له ده سره د دوستی په نوم د شا له خوا په جمهور رئیس برید وکړی.

لومړی یو شمیر دوستان له ده نه لری کړی لکه را واخله زما پلار بازمحمدخان چی هر څه یی په ډیری زړورتیا نوموړی ( داوودخان) ته ویلای شول. لکه چی یوه ورځ سردار محمد داووخان زما له پلاره پوښتنه کړی وه چی بیرون خلک زما په باره او مورد کی څه وایی ؟ پلار می بازمحمد خان ورته ویلی وه چی بیرون خلک داسی وایی چی تاسی د پرچم د ګوند سره نژدی اړیکی لری او خلک وایی چی د پرچم زیات غړی تاسو سره همکار دی کله چی سردار محمد داووخان دا خبری زما د پلار له خولی اوری سمدستی د پولتخنیک یو تعداد محصلین د ګلخانی په مانی کی غواړی او هغوی ته وایی چی زه په هیڅ ګوند کی نه یم او زما موجودیت په هر ګوند کی لویه ګناه ده .

ددی ملاقات رادیوی پروګرام د رادیو افغانستان د خپو نه هم خپور او نشر شوه ، فاروق اعظم چی په دی وخت کی د پولتخنیک محصل و هغه هم دا موضوع په خپل کتاب کی په واضح الفاظو تشریخ کړی ده.
خو کله چی زما پلار د خپلو ملګرو د توطیه څخه خبر شو او هم سردار محمد داودخان ورته وویل چی نور څوک چی غواړی ما و ګوری هغه د ګارد یا وزارت داخله لخوا یوه پرزه ورکوه چی ما و ګوری. وروسته له دی پلار می دا غوره و ګڼله چی د څه وخت لپاره ګوښه شی... هماغه و چی د سردارمحمد داوودخان څخه یوه میاشت رخصت واخست او خوګیانو ننګرهار ته لاړه.
که له یوی خوا له جمهور رئیس سره د یو شمیر دوستانو همکاری کمه شوه خو له بلی خوا د کابینی د غړو تر منځ همغږی هم له منځه لاړه. د کابینی د خپل منځی اخ و ډب پرته یو شمیر نوری کورنی او بهرنی ستونځی هم وی چی د جمهور رئیس واک یی له ګواښ سره مخامخ کړی وه، په بهرنیو ستونزو کی د روسانو او پاکستان سره ستونځی وی، په کورنیو ستونزو کی بیا د محمد داوودخان د حکومت په وړاندی په پنجشیر، لغمان، بدخشان او سره رود ولسوالیو او یو شمیر سیمو کی د اسلامی بنسټ پالو وسله وال پاڅون وه چی حکومت یی و ګواښه، ددی ټولو پیښو په وړاندی محمد داوودخان یواځی پاتی شو، د پاکستان او افغانستان تر منځ لا د پښتونستان مسله په خپل ځای پاتی وه.
د اجمل خټک د یوی ځرګندونی له مخی چی ګنی محمد داوودخان مونږ ته وویل چی جنرال ضیاءالحق هغه ټول بندیان که پښتانه دی او که بلوڅ غواړی له بنده ازاد کړی اوس تاسی کولای شی د ضیاءالحق تر مشری لاندی خپل حقوق تر لاسه کړی.
سلیک هریسن : وایی چی ما د ۱۹۷۴ کال په پای کی چی ضیاءالحق لا واک ته نه وه رسیدلی له ذالفقار علی بوټو سره ولیدل، بوټو راته وویل چی محمد داوود ته زمونږ کمزوری ټکی معلوم دی، اوس مونږ ته هم د دوی کمزوری معلومه شوی ده او هغه دا چی په افغانستان کی د پښتنو له واک نه یو شمیر لږ کی ( اقلیت)سر ټکوی له همدی لاری کولای شو پر ده فشار راوړو.
سلیک هریسن د ایران په اړه هم کښلی یا لیکلی دی. : چی په ۱۹۷۴ز کال ایران افغانستان ته څلویښت میلونه ډالر پور ور کړو، که څه هم یو وخت د ایران پاچا، محمد داوودخان د سره شهزاده په نوم یاده وه، خو کله چی د محمد داوودخان د روسانو د مشاورینو د کموالو چی سردار داوودخان له روسانو وکړه او داوود په دی وخت کی د ۷ سوه شا اوخوا مشاوران ۴ سوه ته را ټیټ کړه، په سره لانجه راغله نو بیا ساواک خپلی هلی ځلی نوری هم ګړندی کړی.
بیا هم په دی تړاو د سلیک هریسن لیکنی ته تم کیږو:
دی وایی، چی د ایران د بهرنیو چارو وزارت یو چارواکی (جعفر ندیم) ماته په ډیر ډاډ و ویل ساواک د محمد داوودخان په رژیم کی کار کوی. او زمونږ اقتصادی مرستی د محمد داوودخان د رژیم سره مشروطی دی (؟) د افغانستان د چارو کار پوه په کابل کی د انګریزانو د وخت سفیرRoy Crook هغه وخت دی ټکی په اشاره وویل که چیری ایران په دی بیړه خپلو کړو ته دوام ورکړی نو افغانستان به د شوروی له ګواښ سره مخ شی.
په داسی حساسو شرایطو کی محمد داوودخان یو شمیر د کابینی غړی له واک نه ګوښه کړل په لومړی ګام کی ښاغلی عبدالحمید محتاط د مخابراتو وزیر له وزارته لری کړو، همدا راز داکتر محمد حسن شرق، فیض محمد، پاچاګل وفادار بهرنیو هیوادونو کی سفیران شول. چی په دی کار داوودخان خپلی پښی په تیشه لنډی کړی. زما د وررو عبدالمجید باز د خولی خبره ده ، هغه وایی چی.
جمهور رئیس محمد داوودخان اکثر وخت د خپل کور څخه پای پیاده خپل کار دفتر ته تلو خو کله که به چی ورباندی لږ نا وخته شوی و بیا به په یوه شین رنګه مارسیدیس بنز موټر کی دفتر ته تلو.

زما ورور عبدالمجید د دولت د رئیس سریاور خپل پلار ته وویل تقریباً ستا د تګ نه روسته یوه نیمه میاشت یوه ورځ دواړه دده د کور نه د دفتر په لاره روان و، رئیس صاحب جمهور زما نه پوښتنه وکړه چی مجید جان پلار دی د یوی میاشتی لپاره لاړ و د خو تقریباً دوه میاشتی تیری کړی . ورور می پلار ته وویل چی ما داوودخان ته وویل : چی هغه لړ خوابده شوی دی، ورور می وویل  چی  داودخان ماته وویل په څه؟ بیا می ورور ورته ویلی و په هغه موضوع چی تاسی ورته ویلی وه چی که نور که څوک غواړی چی ما و ګوری یا یی د وزارت داخلی یا د ارګ له لاری باید هغه خلک له ما سره وګوری. ورور می و ویل چی داوودخان ماته وویل چی ولی دی دا موضوع راته مخکښی ونه ویله، ورور می ورته ویلی و چی ما فکر کاوه تاسی پر دی جریان خبر یاست. ورور می زیاته کړه مخکښی له دی چی دفتر ته ورسیږو داوودخان راته وویل چی زه د هغه د خفګان چاره کوم.
نوربیا